سمیع الدین افغانی

۲۰۱۶/ ۵ / ۲۷

# په هرلوری افغانان مری

د انسان په مرگ خـوښي لويه گـناه ده
که دا مرگ مود دښمن يا کوم بدخواه ده

انسانان د خدای مخلـوق او بنده گـــان دي
څوک په غيرو لار سرڅوک مؤمنان دي

پس له مرگه بنده خدای ته په ورتلو دی
د خپل نيک او بـــد اعمالو جوابگو دی

چي صادق دی د الله په لاره کي سم دی
پاک انسان د خدای په در کي مقدم دی

دا چي څوک دی بي گناه څوک گناه کاردی؟
صرف پـــه دي باندي اگاه پروردگار دی

څوک دخدای لارکي شهيد شي جنتي شي؟
څوک پـــه خپلو بد اعمالو دوزخي شي؟

چـــي د چـا مقام شهيد د چـا کـــمتر دی
بنده نـــه صرف پاک الله پـــدي خبر دی

ربه ستا دا لوی دربار ته مو دوعا ده
ته رحيم يي ستا رضا زمونږ رضا ده

افغانان سره يـــو موټی يـــو قوت کړي
نور په امن کي بسيا زمونږ ملت کړي

افغاني وطن که سوله شي وروري شي
په هر سيمه هري خواه به خوشالي شي





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ